## الدرس الثالث
## دريم درس

### آداب الباس
### د لباس آداب

١-مسلمان لره پکار دی چی نوی جامی اچوی نو دعاء دِي ووائی ، په حدیث د ابو سعید خدري رضی الله عنه کښې راځی :«اللَّهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ أَنْتَ كَسَوْتَنِيهِ أَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِهِ وَخَيْرِ مَا صُنِعَ لَهُ وَأَعُوذُبِكَ مِنْ شَرِّهِ وَشَرِّ مَاصُنِعَلَهُ».(ابوداود :٤٠٢٠) ترجمه : اے الله ! ستا دپاره ټول صفتونه دی تا راته دا جامی واچولی ، زه ستانه ددی خیر غواړم او د هغه څه خیر چی دا ورله جوړی شویدی او ددی د شر نه په تاپوری پناه غواړم ، او د هغه څه د شر نه چی دا ورله پیداشوی وي .٢-جامه اول ښئ اندامونو ته اچول پکار دی ، په حدیث دعائشه رضی الله عنها کښې راغلی دی : «كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يُحِبُّ التَّيَمُّنَ مَا اسْتَطَاعَ فِي طُهُورِهِ وَتَنَعُّلِهِ وَتَرَجُّلِهِ». (متفق علیه).ترجمه : نبي کریم ﷺ په ټولو کارونو کښې چی خومره به تري کیدي شوه ښی طرف خوښولو ، په اودس کولو کښې ، په سر ږمنز کولو کښې ، او په پیزار اچولو کښې به شروع دښئ خپې نه کوله ، او ویستلو کښې به شروع د ګسئ خپې نه کوله . ابوهریره رضی الله عنه فرمائی چی رسول الله ﷺفرمائیلی دی «إِذَا انْتَعَلَ أَحَدُكُمْ فَلْيَبْدَأْ بِالْيُمْنَى وَإِذَا خَلَعَ فَلْيَبْدَأْبِالشِّمَالِ وَلْيُنْعِلِ هُمَاجَمِيعًا أَوْلِيَخْلَعْ هُمَا جَمِيعًا ». صحيح مسلم. ترجمه : تاسو کښې چی څوک پیزار اچوی نو شروع دِي د ښئ خپی نه کوی ، او چی اُوباسی نو دګسی خپې نه دِی کوی او یا دِي دواړو خپو ته واچوی ، او دواړو خپو نه دِي په یوځائی اُوباسی په یو پیزار کښې د تللونه په حدیث کښې منع راغلی ده چی یوه خپه کښې پیزار وی او بله کښې نه وی ٣-هر مسلمان باندی لازم دی چی د بدن او دجامی د صفائی خاص خیال وساتی ځکه داد خائسته منظر بنیاد دی ، اسلام صفائی طرفته ترغیب ورکړی دی او د بدن او جامی د صفائی حکم ئی هم ورکړیدی .

٤-جامو کښې غوره رنګ سپین دی ، عبد الله بن عباس رضی الله عنه فرمائی ، چی رسول الله ﷺفرمائیلی دی :
**الْبَسُوا مِنْ ثِيَابِكُمُ الْبَيَاضَ فَإِنَّهَا مِنْ خَيْرِ ثِيَابِكُمْ وَكَفِّنُوا فِيهَا مَوْتَاكُمْ.**

ترجمه : سپیني جامي اچوئي ځکه چي دا ستاسو غوره جامي دی ، او پدی کښې خپل مړی دفن کوئي .

پدی خبره ځان پوهه کول پکار دی چي سپین رنګ صرف افضل دي ، نور هر قسمه رنګونه جائز دی ، په جائزو لباسونو کښې د زیاتی او اسراف نه ځان ساتل پکار دی ،

الله تعالی فرمائیلی دی:[وَالَّذِينَ إِذَا أَنفَقُوا لَمْ يُسْرِفُوا وَلَمْ يَقْتُرُوا وَكَانَ بَيْنَ ذَلِكَ قَوَامًا] {الفرقان:٦٧} ترجمه : مومنان هغه خلق دي چي کله خرچه کوی نو نه زیاتی کوی ، اونه کنجوسی کوی ، بلکه ددی په مینځ کښې وی ، او نبی کریم ﷺ فرمائي : ((كُلُوا وَاشْرَبُوا وَالْبَسُوا وَتَصَدَّقُوا فِي غَيْرِ إِسْرَافٍ ، وَلاَ مَخِيلَةٍ)) (رواه البخاري)

ترجمه : خورئ او څښئ او صدقه کوئ په غیر د اسراف او بغیر د تکبر کولو نه.